منبع الجهاد

علمي او جهادي مياشتنی خپرونه

باید مجاهدین په بشپړه توګه متحد شی، خکه اختلافاتو
زمونږ اسلامی انقلاب له خنډ، خنډ او د دښمنانو د توطئو له
ګواښونو سره مخامخ کړی دی.

الحاج مولوي جلال الدین حقانی

د جهاد د قوماندانانو ددوهمی لويي غونډې لنډ راپورتاژ

مجاهدین دهیچا فشار ته نشي
تسلیمیدلی.که دفشار په مقابل
کی دتسلیمیدو خبره وای، نو
دروس غونډې وحشي او ستر
نظامي قوت په وړاندی به یې
وسله ایښی وای .

امین وردک

د منبع العلوم مدرسه کی
هر هغه افغان شاملیدای
شی چی د اسلامی اصولو
پوره پابندوی،تنظیمی
رقابتونه ونه پالی او
یواځی درس ووائی

مولوی عزیز خا ن دمنبع العلوم صد ر

د جهاد د قوماندانو د سرا سری شورا ګوه اعلامیه



دشلکی پوسته فتح شوه

بسم الله الرحمن الرحیم



فرمان خداوند (ج)

همه یکجا به رسن خدا چنگ زنید ، پراگنده مشوید ونعمتی راکه خدا بشما ارزانی کرده بیاد آرید ، هنگامیکه شما دشمنان (یکدیگر) بودید و او میان دلهای شما الفت افگند پس به (برکت) نعمت او برادر (یکدیگر) شدید وشما برکنارهٔ گودالی از آتش قرار داشتید ، پس شمارا از آن نجات داد . باین ترتیب خداوند آیات خود رابشما بیان میکند تاباشد که شما راه یابید .

باید دربین شما جماعتی باشند که (مردم را) به خیر فراخوانند ، امر به معروف کنند وازکار های ناپسند باز دارند وهم ایشان اند رستگار .

(سورهٔ آل عمران آیة ۱۰۳ ـ ۱۰٤)

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدّين حقانی
د تأسيس کال : ۱۳٦۸ هـ.ش ۱٤۰۹ هـ.ق

دوهم کال ، لومړۍ (پر له پسې ۱۳) گڼه ، (۱۳٦۹هـ ش سرطا ن ، ۱٤۱۰ هـ ق ذوالحجه

په دې گڼه کې

شماره عنوان	لیکوال	مخ
۱ـ د منبع الجهاد مجلې لومړۍ نشراتی ...(سرمقاله)	اداره	۲
۲ـ که د مجاهدينو تر مينځ د اختلافاتو ...	دقومندانانوسر تاسری غونډه کی د الحاج حقانی وینا	۷
۳ـ مسکو او د بغاوت يوه بله څپه	عصمت قانع	۱٤
٤ـ عوامل پيروزی واسباب رکود ...	احمد خالد	۱۷
۵ـ د روسانو د مزدور رژيم په ...	سيد محی الدين هاشمی	۲۲
٦ـ ربښتيني اوبشپړ اتحاد...	دقومندان امين وردك مرکه	۲٤
۷ـ اهميت نظم و اداره در جهاد ...	محمد امين مدقق	۲٦
۸ـ مدافعه	محمد عمرا ثم	۳۰
۹ـ د منبع العلوم په مدرسه کی هغه ...	(مولوی عزيز خان مرکه)	۳۳
۱۰ـ مجاهدينو په خوست کی د شلکا پوسته...		۳۸
۱۱ـ په پکتيا کی د افغانستان د جهاد د قوماندانانو..	(راپورتاژ)	٤۰
۱۲ـ د افغانستان د جهاد قومندانانو گډه اعلاميه ...		٤٦
۱۳ـ د جهاد قوماندانانو د شورا د برخه والو نومونه		٤۷
۱٤ـ حقوق پدر و مادر ...	قاضی نظر محمد	۵۱
۱۵ـ جهاد د شعر و ادب په ښوکی		۵۵
۱٦ـ سرطان سرخ	ترجمه آيت الرحمن (فاضل)	۵٦
۱۷ـ مجاهد شاعر گل ميرجان او...	س ، م ، د	٦۰
۱۸ـ د حق د لاری قربانيان :		٦٤

دهيئت تحرير تر نظر لاندې

مسوول مدير
الحاج عبدالباري ننگيال
مرستيال
سيد محی الدين هاشمي

مکاتباتی پته
پوست بکس نمبر ۱۰۳۳ يونيورسٹی
ټاون ، پېښور

سرمقاله

د «منبع الجهاد» مجلې دلومړی کال نشراتي فعالیت ته یوه لنډه کتنه

په افغانستان کی د ثور د خونړۍ کودتا او د روسانو د مزدورانو ملحدو کمونستانو د قدرت ته د رسیدلو په نتیجه کی مؤمنو افغانانو د کفر او الحاد پرضد وسله وال پاڅون پیل کړ . د دغه وسله وال پاڅون په جریان کی مؤمنو افغانانو په تدریج سره چا مستقیماً وسلی ته لاس کړ ، د وسله وال جهاد سنگر ته یی ورودانگل ، د دین او وطن له دښمنانو سره یی مخامخ ډغری ووهلی او پرهغوی یی مرگونی گوزارونه وکړل . ویاړلی حماسی او جهادی کارنامی یی رامینځ ته کړی . چا مالی جهاد وکړ او چا د خپل وس او استعداد سره سم قلمی او فرهنگی جهاد ته ادامه ورکړه او د ژبی او قلم له لاری یی خپل دینی او تاریخی مسوؤلیت او رسالت د سرته رسولو په تکل کی شول ، د دښمن د کرغیړنی څیرې د رسوا کولو ، او د الحاد ، فساد ، ظلم او زور زیاتی په وړاندی یی د مؤمنو افغانانو د بیدارولو او خپل دینی مسوؤلیت ته د متوجه کولو په خاطر یی تبلیغات او لیکنی وکړی او له دغه لاری یی مؤمنو افغانانو ذهنونه روښانه کړل .

که د وسله وال جهاد د سنګر مجاهدينو په ګوليو د دښمن وجود سوري سوري کړ او دښمن ته يې د جګړې په سنګر کې ماتې ورکړه نو د فرهنګي جهاد د ډګر مجاهدو ليکوالو او اديبانو هم د الفاظو په ګوليو د دښمن زړه سوري کړ ، د هغه پوچ او زهرجن تبليغات يې بې اثره کړل ، نړيوالو ته يې د قلم په ژبه د خپرونو له لارې د افغانستان د مسلمان ملت غږ وروړساوه ، د جهادي سنګر د اتلانو وياړلي کارنامو ستاينه او د روسانو او د هغوی د مزدورانو (ملحدو کمونستانو) د مظالمو غندنه يې وکړه او پخپلو ليکنو کې يې انځور کړې .

په دې تيرو دولسو کلونو کې د جهاد په فرهنګي ډګر کې زياتې خپرونې وشوې کتابونه وليکل شول ، اخبارونه او مجلې رامنځ ته شوې او د افغانستان د اسلامي انقلاب د جهاد په علمي او فرهنګي مدرسه کې په فطري توګه ډير نوي ليکوال وروزل شول او استعدادونو يې غوړيدنه وکړه . هر مجاهد ليکوال او اديب د خپل وس او توان په اندازه په دغه فرهنګي جهاد کې برخه واخيسته . او د يادونې او ستايني وړ آثار يې رامينځ ته کړل .

د جهاد خپرونو په جمله کې يوه هم د « منبع الجهاد » مجله وه چې په ١٣٦٨ هـ ش کال.کې د مجاهدينو د نوميالي قوماندان مولانا جلال الدين حقاني له خوا تأسيس او لومړې ګڼه د همدغه کال د سرطان په مياشت کې خپره شوه .

مجلې د خپريدو له پيل څخه د خپلې آزادي اسلامي او جهادي پاليسي په چوکاټ کې د جهادي سنګرونو د ترجمان په توګه خپلو خپرونو ته دوام ورکړ ، او د خپل نشراتي هدف د مفهوم او رسالت په

درك سره يى مخ په وړاندى ګامونه پورته كړل .

په خپلو بيلا بيلو ګڼو كى يى د جهاد د سنګر د نوميالیو او اتلو قوماندانانو سره مركي خپرى كړى او د هغوى له افكارو او نظرياتو سره يى خلك اشنا كړل او د سنګر د مجاهدينو پيغامونه يى خلكو ته ورسول .

همدارنګه يى پخپلو پاڼو كى د جهاد د تاوده سنګر خبرونه خپاره او خلك يى د مجاهدينو له وياړلو كارنامو او د دښمن له ماتى څخه خبر كړل .

د بيلابيلو مقالو په ترڅ كى يى د كمونيزم او روسانو اصلى څيره تشريح كړه او د هغوى د شومو او ناوليو اهدافو ، مقاصدو او په افغانستان او نوره نړى كى يى د هغو د تر سره كړيو مظالمو ، فجايعو او توطيؤ په هكله د لوستونكو ذهنونه روښانه كړل .

د جهاد ، هجرت او دينى تعليم او تربيى په هكله يى د پياوړو او مشهورو دينى عالمانو او ليكوالو علمى او تحقيقى مقالى خپرى كړى .

مجلى په پر له پسى ګڼو كى د حق د لارى د قهرمانو شهيدانو په پيژندنه ، د وياړلو تلپاتى جهادى كارنامو په يادونه او د هغوى د تصويرونو د خپرولو او خوندى ساتلو په برخه كى تر ډيره حده خپل مسوؤليت او رسالت سرته رسولى او رسوى يى .

په بيلا بيلو ګڼو كى يى د ورځى او وخت د مهمو او تودو مسايلو په هكله علمى ژورى او په زړه پورى تبصرى خپرى كړى او د سر مقالو او ځانګړو تبصرو په ترڅ كى ډير حقايق روښانه كړى دى .

د جهادى ادب د خپرولو او نشرولو په برخه كى يى هم تر ډيره

حده هڅه کړی ده او په بیلا بیلو ګڼو کی یی جهادی شعرونه او لنډی کیسی خپری شوی دی .

د تیر نشراتی کال په اوږدو کی یی د زیات شمیر پخو او مشهورو لیکوالانو علمی او قلمی مرستی جلب کړی او د هجرت په محیط او جهادی سنګرونو کی یی زیات شمیر لوستونکی او علاقمندان پیدا کړی دی .

د هری ګڼی په بیلا بیلو مخونو کی د جهادی سنګرونو ، د مجاهدینو ټپیانو ورانو او کنډواله شوی کورونو ، له دښمن څخه د تر لاسه شویو وسلو او وسیلو ډول ډول عکسونو د مجلی د صحافت ښکلا لا پسی زیاته کړی ده .

مجله (پرته له لومړینو څو ګڼو څخه چی د اداری ستونزو او مشکلاتو له کبله پخپل وخت چاپ او خپره نشوه) د هری میاشتی په پای کی خپره شوی او په خپل وخت د هجرت په محیط او جهادی سنګرونو کی توزیع شوی او لوستونکو ته رسیدلی ده .

د مجلی مسوولینو او کارکوونکو له یوی ګڼی څخه بلی ته د مجلی د علمی محتوی د لوړوالی او د قطع او صحافت د ښه والی لپاره تر ممکنه حده د خپلی وسی او توان په چوکاټ کی هڅه کړیده.

د منبع الجهاد اداری د میاشتنی مجلی تر څنګ د الحاج مولانا جلال الدین حقانی د مرکو او ویناؤ څلور ځانګړی رسالی هم خپری کړی دی .

مونږ په داسی حال کی چی د مجلی د دوهم نشراتی کال د پیلیدو په درشل کی یو ، یو ځل بیا د خپلو ټولو لوستونکو او مینه

والـو پـه وړانـدی وعده کـوو چی د مجلـی اداره او کـارکـوونکـی بـه د امکـان تـر حده د مجلـی د دینـی ، علمـی ، ادبـی سیاسـی محتوی د لوړوالـی ، د قطع او صحافت پـه لا ښـه والـی او همدارنگه پخپل وخت د خپرولو او توزیع کـولو پـه برخه کـی هڅه وکړی ترڅو خپل هغه تاریخی رسالت چی د خپلی آزادی اسلامی پالیسی په چوکاټ کـی یی د افغانستان د مجاهد ملت په وړاندی لری ، د جهاد پـه فرهنگی ډگر کـی پـه ښـه شان سره سرتـه ورسوی .

پـه پای کـی لـه ټولو مجاهدو لیکوالو او ادیبانو څخه زمونږ هیله داده چی لـه مونږ سره خپلی علمی او قلمی مرستی جاری وساتـی . د مجلـی د لـوستـونکـو او مینـه والـو څخه غواړو چی د مجلـی د علمـی محتوی د لوړ والـی او د قطع او صحافت د ښـه والـی لپاره د خپلـو رغنده پیشنهادونو او اصلاحی انتقادونو پـه رالیږلو سره زمونږ مرستـه وکړی .

والسلام .

الحاج مولانا جلال الدین حقانی د قوماندانانو دوهمی سراسری غونډی ته په‌وینا کی :

باید مجاهدین په بشپړه توگه متحد شی، څکه اختلافاتو زمونږ اسلامی انقلاب له ځنډ، خنډ او د دښمنانو د توطئو له گواښونو سره مخامخ کړی دی

د افغانستان د جهاد قوماندانانو د سرطان (۲ – ٤) نیتی په سراسری غونډه کې الحاج مولانا جلال‌الدین حقاني مفصله وینا وکړه چې بشپړ متن یې دلته خپروو:

„ اداره „

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمد و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد:

ډیرو غزتمندو ورونو، د جهاددسنگر نومیالیو قوماندانانو او مجاهدینو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

په افغانستان کی د اسلامی انقلاب راتلل زمونږ د مؤمنو خلکو له خوا دوه ډوله تعبیر کیږی: یو ډول تعبیریې دا دی، څینی خلك داسی فکر کوی چی مونږ ډیر گناه گار یو، الله (ج) مونږ ته په غضب شوی، څکه زمونږ په‌هیواد کی ملحدین او کمونستان قدرت ته ورسیدل، زمونږ په هیواد باندی ملحدو او بی دینه روسانو یرغل وکړ، په دی بهیر کی زمور زیات شمیر مؤمن وگړی له خپلی خاوری څخه گاونډیو اسلامی هیوادونو ته په هجرت کولو مجبور شول. په لکونو مؤمن افغانان په شهادت ورسیدل، زیات شمیر گوډ، شل او معیوب شول، کورونه په کنډوالو بدل شول او زیاتی مادی او معنوی شتمنی مو تباه شوی. دوی دغه انقلاب د ځان له پاره یو ډول ذلت او عذاب احساسوی او لکه چی د شریعت له یو اړخ نه څرگندیږی په کوم قوم کی چی د الله تعالی له اوامرو او احکامونه سرکشی او طغیان زیات شی نو الله (ج) پری آسمانی آفت نازلوی ، یا پری په څمکه ظالم حاکم مسلطوی او یا پری د یو څه وخت لپاره د کافرانو او ملحدینو غلبه حاصلوی.

له دی واقعیت نه سترگی نشو پټولی کله چی زمونږ په هیواد کی اسلامی انقلاب او جهاد پیل کیده له هغی نه په څو کاله مخکی موده کی په افغانستان کی د وخت د حاکمانو له خوا د اسلام د دین او شعایرو ډیر توهین کیده، ریښتنی مؤمنانو او متدینو خلکو ته به په سپکه سترگه کتل کیدل او توهینیدل به، په مقابل کی د بی دینه او ملحدو ډیر عزت کیده او حمایه کیدل او هغوی ته یې د هر ډول فعالیت زمینه برابروله.

لنډه دا چی د وخت د فاسدو

حکومتونو او حاکمانو له خوا د دین ترقۍ ته هیڅ توجه نه کیدله او عام خلك له دینی تعلیماتو نه ډیر لرې ساتل شوی وو او په ملت کی د دهریت او الحاد د بو چی مفکوری د خپرولو لاری چاری ورځ په ورځ برابر- یدلی. نو کیدای شی چه اللّه (ج) مونږ ته د هغو اعمالو په توسه په عضب شوی وی او په دی وسیله یې مونږ ته سزا راکړی وی.

واك کی وی، ماتی ورکړی. کفر او الحاد یی ډیرو لږو مؤمنو افغانانو په لاس خوار او ذلیل کړ.

نو ورونو! په افغانستان کی د کفر او الحاد، فسق او فساد په مقابل کی د جهاد پیل کیدل د مؤمنو افغانانو لپاره د اعزاز او کرامت سبب شو او دهمدغه جهاد په برکت مؤمن افغانان مجاهدین شول او نه یوازی دا چی په افغانستان او اسلامی نړی کی د

دهمدغه جهاد او انقلاب له برکته ورته د ټولی اسلامی نړۍ پام و اوښت او له دوی سره یې همرستی پیل کړی، بې د کمونستی هیوادونو څخه د ټولی نړی نشراتی وسایل (راډیو، تلویزیون، اخبار، مجله) د دوی په خدمت او صفت بوخت شول. د همدغه جهاد له برکته په افغانانو کی قلبی وحدت لاپسی پیاوړی او قوی شو. او د نوری اسلامی نړۍ سره یې اړیکی ټینګی

که د مجاهدینو تر مینځ بشپړ وحدت موجود وی نو هیڅکله داسی واقعه مینځ ته نشي راتلای چې یو مجاهد قوماندان له یوه غله، خاین او تخریبکار څخه ننګه او ملاتړ وکړی. اونه جاسوسانو، غلو، او خیانتکارانو ته د فعالیت زمینه برابریږی.

خو یو حقیقت دا دی چی اللّه (ج) په هره زمانه کی د اسلام او کفر په مینځ کی تکرار راولی او د هغوی په نتیجه کې مسلمانان په کافرانو باندی غالبوی او همیشه داسی شوی دی چه د ډیرو کمزورو بې وسلو او بې وسیلو مسلمانانو په لاس یې یو لوی کفری طاقت ته ماتی ورکړی ده.عزتمندو ورونو! اللّه (ج) د همدی قانون مطابق د افغانستان مسلمانانو ته چی نه یې وسلې او وسیلی درلودی او نه نظم او وحدت، دا قدرت او قوت ورکړ چی د روس غوندی یو لوی کفری طاقت ته چی هر ډول وسلی او وسیلی یې په

مجاهدینو په توګه وپیژندل شول، بلکه ټوله نړۍ یې اوس د مجاهدینو په نوم یادوی.

له ډیری مودی راهیسی په تاریخ کی د جهاد نوم له یاده غورځیدلی ؤ، اللّه (ج) دا نوم د همدغه مؤمنو افغانانو په وسیله را ژوندی کړ. افغانانو ته د همدغه انقلاب په برکت د جهاد راوستلو شرافت حاصل شو، د هجرت اعزاز یې هم په برخه شو او د شهادت کرامت او لوړ مقام یې هم په نصیب شو. او د روس په شان د لوی طاغوتی او الحادی قوت د راپرځولو، ذلیله کولو او ماتولو ویاړ هم د دوی شو.

شوی او اللّه (ج) دغه جهاد د ټولی اسلامی نړۍ او د نوری نړۍ د مسلمانانو ترمنځ د ارتباط یوه ډیره ښه وسیله وګرځوله او د نورو تر سلطی لاندی اسلامی ملتونو او قومونو لپاره یې د ستم او ظلم څخه د نجات اوژغورنی لاره په ګوته کړه.

اوس نو تاسی وګوری چی اللّه (ج) په افغانانو باندی د انقلاب غضب نازل کړی دی او که رحم یې پری کړي چې د دغه جهاد له برکته یې دوي معزز ګرځولی دی او له کوز او لویدلی حالت څخه یې لوړ مقام او منزلت ته رسولی دی.

د جهاد او انقلاب له پيل نه د مخه به په افغانستان کې په ښکاره روژې خوړل کيدلې په ديني شعايرو پورې به ملنډې وهل کيدلې، ملحدينو او کمونستانو به په ښکاره ويل چې : (نعوذ بالله) خداى نشته، ملائيك نشته، پس له مرگه ژوند نشته، د قبر عذاب، د قيامت ورځ او حساب کتاب نشته او ... خو اوس چې الله (ج) مسلمانانو ته دا توفيق ورکړ چې د جهاد په برکت ملحدينو او د هغوى

وهى دريا په خاطر لمونځونه کوى، روژې نيسى، او د خلکو د تيرايستلو لپاره اعلان کوى چې جوماتونه جوړوو، حج ته ځو مونږ مسلمانان يو او ... تاسى به اوريدلي وى چې څو ورځې د مخه د روسانو مزدور ملحد نجيب د کابل د ښار ځينى هغه سپين- ږيرى چې اولادونه يې کمونستان دى، ځانته ورغوښتى وو او هغوى ته يې ويلي ؤ چې که په ماکى کې کوم عيب وينى راته يې ووائى، د دغو خلکو له جملې

ډيرى بې شرمى سره د اسلام اسلام نارى وهى او تر پرونه يې چې د «هورا» «هورا» نارى وهلې نن د تکبير چيغې پورته کوى دا ټول د افغانستان د مؤمنو مجاهدينو د جهاد له برکته دى چې کمونستان يې دومره وار خطا کړى دى چې خپله لار يې ترى هيره کړه او نن د مجاهدينو له ويرى د خپل ژوند د بقا او د خلکو د تيرايستلو په خاطر دى ته مجبور شوى چې په خپله په خپل ځان لعنت

مجاهدين بايد د خداى (ج) د رضا لپاره په جهاد کې د ستړيا احساس ونکړي دا جهاد مونږ ته د خداى (ج) له لوري رحمت دى او د مجاهد چې يو خاشکې وينه په دى لاره کې توئيږي هغه ورته جنت ته د داخليدو او د دوزخ له اورنه د خلاصون زيرى دى.

روسى بادارانو ته غاړه ماتوونکى گوزارونه ورکړى او هغه سيمى چې د مخه پرى دکمونستانو او ملحدينو تسلط او قبضه موجوده وه مجاهدينو هغه فتحه کړى او له هغه ځايونو څخه يې د شر، فساد او الحاد ريښې وايستلې اوس يې د روسانو غلامان په يوځى مرکزونو کې محاصره او ټولې لارى يې پرى بندى کړي دى، د تعجب خبره داده چې نن نجيب او هغه نور ملگرى چې تر پرونه يې د الحاد او فساد د خپرولو هڅې کولې د دين توهين يې کاوه او له خداى (ج) څخه منکر ؤ اوس د مؤمنو او مجاهدو افغانانو له ويرى. د اسلام اسلام نارى

څخه يو سپين ږيرى (چې په غالب گومان د خاد دايجنټانو له خوا به ورته ويل شوى ؤ چې داسى يو ښتنه وکړى) نجيب ته وويل چې ته نور په تمامه معنى په شريعت برابر يې، خو يو درى غيبونه لرى يو دا چې حج دى نه دى کړى، دويم دا چې ږيره دى نه ده پريښې او بل دا چې پگړى دى نه ده په سر کړى او نجيب مرتد په ډيرى بې حيائى سره وويل چې پگړى به دا دى اوس په سرکړم، ږيره مى هم له همدا نن نه پريښوده، او حج ته به هم سږ کال لاړ شم.

نو ورونو دا چې نن نجيب او د هغه نور ملگرى (خلقيان - پرچميان) په

ووايى.

ورونو! جهاد او اسلامى انقلاب پيل کيدل افغانانو ته د خداى (ج) له خوا د عزت، زور او قوت يوه لويه او بختوره تحفه او هديه وه او ده.

مجاهدين بايد هيڅکله د خداى (ج) د رضا لپاره په جهاد کې د ستړيا احساس ونکړى، دا جهاد مونږ ته د خداى (ج) له لورى رحمت دى او چې د مجاهد يو څاڅکى وينه په دى لاره کې توئيږى د اورته جنت ته د داخليدو زيرى او وجوب دى، که د جهاد په لار کې وربانډى گرد پريوځى دا هم وجوب د جنت دى او د دوزخ نه پرى خلاصيږى، چاچې په صداقت

سره خاص د خدای (ج) د رضا او اعلای کلمة الله په خاطر په دی لار کی یو قدم پورته کړ د پل صراط څخه به ورته تیریدل اسانه شي او که یوه ورځ په جهاد کی تیره کړی تر دری اتیا کالو عبادت څخه ورته غوره او بهتره ده او که په دی لار کی د غم او درد دزغملو په نتیجه کی یی یو څاڅکی اوښکه توی شی د د وزخ اور وربانّدی حرام دی. څوك چی د جهاد

مسلمانانو پاتې مونږ ته راپاړ ؤه، هغوی یې زمونږ مرستی ته راپاڅول. مونږ چی د مخه تش لاس ؤ، وسله، وسیله مونه در لوده، خدای (ج) د همدغه جهاد په برکت مونږ ته دا قوت راکړ چی د دین دښمنان راوپرځوو له هغوی څخه سپکی او درنی وسلی په غنیمت ونیسو او بیا یی بیرته پر هغوی استعمال کړو. هم هغه ټانکونه او ماشینداری چی د روسانو په لاس

شهادت مو د خدای (ج) په دربار نه دی قبول ، ملایك به داسی شخص له لاسه نیسي او په دوزخ کی به یی پرمخی غورځوی او ورته به وایی چی «کذبت» تا د دنیا ، چوکی، شهرت،حزبیت او قومیت لپاره جهاد کاوه، هغه تاته په دنیا کی در کړل شول آخرت ته دی هیڅ هم نه دی راوړی.

او که جهاد کی مونیت دا و چی خاص

داچی نن د روسانو مزدور او ملحد نجیب اوښفه نور ملګری (خلقیان او پرچمیان) په ډیری بی شرمی سره د اسلام- اسلام ناری وهي او د «هورا» پر ځای د « تکبر» چیغې پورته کوی دا ټول د افغانستان د مؤمنو مجاهدینو د جهاد له برکته دی چی کمونستان یې دومره وارخطا کړی چی خپله لار یې ترې هیره کړې او د مجاهدینو له ویرې او د خپل ژوند د بقاء او خلکو د تیرایستلو په خاطر دې ته مجبور شوی چی پخپله په خپل ځان لعنت ووایي.

په لار کی د سر او مال نه تیریږی، یا د جهاد د پاره یوه خبره چاته کوی او څوك چي مجاهدینو ته وسله او غله اخلي او د جهاد مرکزونو ته یی ورلیږی، د دی په بدل کی الله جل جلاله ورته جنت په نصیب کوی.

ورونو! خدای (ج) مونږ او تاسی ته د جنت ګټلو، د خدای د دیدار د حاصلولو لپاره یوه بهترینه لاره جوړه کړه، دا چي مونږ به وریسی فلسطین کشمیر او ... ته تللو هغه یی نن زمونږ کورته راوستله. خدای (ج) له مونږ سره نصرت وکړ او د تولي نړۍ د

جوړی شوی وی او هغوی زمونږ د منځه وړلو لپاره خپلو مزدورانو ته ورکړی وی او یا یی پخپله زمونږ د مرګ لپاره راوړی وی، هغه خدای (ج) زمونږ لاس ته راوستی او هغوی مو پری د خپلو اعمالو په سزا ورسول.

ورونو! په جهادکی دیر مهم شی «نیت» دی که نیت مو دا ؤ چی مونږ د جهاد په وسیله نوم، قدرت ، مال دولت، وسله او پیسی پیدا کړو، جهاد مو هیڅکله د خدای (ج) په دربار کی نه قبلیږی، که شهید شو

داعلای کلمة الله په خاطر به جهاد کوو نو جهاد مودخدای (ج) په دربار قبول دی .

بله خبره چی په جهاد کی ډیره ضروری ده هغه په روا کارونو کی د خپل امیر اطاعت دی ، چی دا پر هر مجاهد فرض دی . او په ناروا کارونو کی لکه خپل منځی جګړی ، د مسلمانو خلکو ځورول او ... دا بالکل حرام دی.

که چیری مجاهد په روا کارونو کی د خپل امیر اطاعت نه کوی او سرتری غروي نو خدای (ج) ورته د جهاد

هیـح ثـواب نـه ورکـوی . کـه چیـری مجاهد د غنیمت په مال او هغه وسله کی چی ده تـه د جهـاد لپـاره ورکـړل شوی ده خیانت وکړ نود هغه جهاد د خدای (ج) په دربـارنـه دی قبـول او د خپل دغه خیانت له امله به دوزخ ته لویږی ځکه دده په دغه خیانت سره د کفر په مقابل کی داسلام صف کمزوری کړی.

ورونو ! بله ډیر مهمه خبره چی جهاد او مجاهدینو ته ضرر رسوی هغه د مجاهدینو تر منځ اختلاف او دلی دلی کیدله دی. مجاهدین باید له دی کار څخه په کلکه خپل ځان وژغوری ځکه الله (ج) په قران کریم کی مسلمانانو ته فرمائی چی :

«ای مسلمانانو تاسی پخپل مینځ کی مخالفت مه کوی، او که مخالفت مو وکړ نو ستاسی قوت به ختم او بی ږره به شی او د کافرانو په مقابل کی به مغلوب شئ». بیا نو الله ـــ تعالی څخه دکمک توقع مه کوی، ځکه چی گناه پخپله په تاسی کی ده. تاسی په خپله بی اتفاقی رامنځ ته کوی . پـه الـهی احکامو او نبوی ارشاداتو کی څوځایه دی ټکی ته اشاره شوی که مسلمانان د جهاد په حالت کی پخپلو منځو کی سره مخالف شی نو الله پاک ـــ ئی نه کامیابوی او له هغوی سره نصرت نه کوی .

بنایی داسی پوښتنه رامخی ته شی چی اوس خو په مجاهدینو او مهاجرینو کی د تنظیمونو شمیر د خلوېښتو نه هم اوښتی دی چه له دی جملی څخه (۷) تنظیمونه په پاکستان او اته یا نهه (۸-۹) په ایران کی رسمی پیژندل شوی دی او د دوی تر منځ دغه اختلاف د جهاد له پیل نه موجود دی او د همدغی بی اتفاقی له امله یو لیډر بل لیډر ،یو مجاهد بل مجاهد او یو قوماندان بل قوماندان نه منی. سره له دی چی په خپل منځ کی پوره وحدت او منظم چوکاټ هم نلرو خو بیا هم په مونږ خدای رحم کړی او ډیری فتحی مو په نصیب شوی دی او که چیری د خدای (ج) قانون په مونږ تطبیق شوی وای نو مونږ به یوه فتحه هم نه وه کړی، روسانو ته به داسی شکست هم نه و ورکړی او د هغوی غلامان به مو داسی کلك هم نه وای محاصره کړی.

دا داسی مثال لری لکه چی یو څوك ډیر ښه ښه کارونه وکړی او بیا تری داسی یوه گناه وشی چی د هغی له امله یی دحکومت د قانون له مخی د لاسونو پریکولو فیصله وشی خو د دی لپاره چی د مخه یی ښه ښه کارونه کړی وی، د هغه لاس پری نه کړای شی. نو دغسی افغانانو هم ډیری لوږی ،تندی ، بیخوبی او د هجرت ستونزی و گاللی ، ډیر زیات شهیدان یی ورکړل او د ډیرو سختو عصری وسایلو ټانکونو، توپونو او الوتکو مقابله یی وکړه. بنایی د دغو قربانیو تر څنگ ورڅخه ځینی غلطی او سهوی هم شوی وی ، په دوی کی مخالفتونه هم موجود وی . خو الله (ج) ددوی ددغو قربانیو او ستونزو او تکلیفونو زغملو په خاطر په دوی رحم وکړ او خپل قانون یې پرمونږ تطبیق نه کړ اوکه چیری یې هغه تطبیق کړی وای او له مونږ سره یې مرسته کړی نه وای مونږ هیڅ کله دومره فتحی نشوی کولای .

ددی خبری یو مثال دبدر په غازیانو کی هم موجود دی. چی هغوی په

که چیرې مجاهد په روا کارونو کې دخپل امر اطاعت نه کوی، خدای (ج) ورته د جهاد هیڅ ثواب نه ورکوی. او که مجاهد د غنیمت په مال او هغه وسله کی خیانت کوی چی ده ته د جهاد لپاره ورکړل شوی جهاد یې د خدای(ج) په دربار کې نه دی قبول او دخپل دغه خیانت له امله به دوزخ ته لویږی.

لوړه ، تنده او ډیر کم لښکر سره دیو لوی طاقت مقابله وکړه . او هغوی ته یې ماتې ورکړه. زمونږ اخلاص او صداقت خو د صحابه ؤ غوندې نشی کیدای ځکه چې د هغوی په څنګ کې په خپله رسول کریم صلی الله علیه وسلم موجود ؤ ، الله (ج) ورته جبرائیل علیه السلام له پنځو زرو ملایکو سره د مرستې لپاره رالیږلی ؤ . خو لکه څنګه چې د بدر په غزا کې غازیانو په تش لاس د ډیرو او په وسایلو سمبال کافرانو مقابله وکړه دغه راز افغانی مجاهدین هم په تش لاس دیو لوی طاقت په مقابله کې د جګړې ډګر ته وروتل . او خپلې سینې یې ګولیوته سپر کړې ، ملحدینو ته یې ماتې ورکړه او په تیښته یې مجبوره کړل.

خو کله چې بیا په هغه وخت کې د بدر غازیانو په بندیانو باندې فدیه واخیستله ، الله (ج) تری په دې ناراضه شو چې ولې تاسې د بندیانو نه فدیه واخیسته ، هغه مو باید وژلې وای ، تاسې دنیا خوښه کړه او هغوی موژوندی پریښودل ،پیغمبر(ص) دوی ته وفرمایل چې عذاب زمونږد کور ونو دروازو ته رارسیدلی ؤ خو دا چې مونږ دبدر غازیان یواو خدای (ج) دبدرغازیانو ته مخکې ګناه معاف کړې ده نو ځکه یې مونږ له دې عذاب څخه وژغورلو.

نو لکه چې الله (ج) دبدر غازیانو ته د هغوی د قربانیو له برکته ګناه معاف کړې وه او عذابونه یې پرې رانه وستل د افغانستان مجاهدینو چې هم خاص خدای (ج) د رضا او اعلای کلمة الله دلپاره ډیرې زیاتې قربانۍ ورکړې .نو کیدای شي. چې الله (ج) د هغې له برکته یې زمونږ خطاګانې او ګناهونه معاف کړي وي. او خپل قانون یې راباندې نه وي نظبیق کړی.

ورونو! د مجاهدینو تر مینځ اختلاف د اسلام او جهاد په وړاندې ډیر لوی جرم او خیانت دي. دوسله وال جهاد په دې تیرو دولسو کلونوکې هم د مجاهدینو تر مینځ واړه او لوی اختلافات رامینځ ته شوي دي، خو بیا هغه د لوي خداي (ج) په فضل او د مجاهدینو د زیار او هڅو په نتیجه کې دیر ژر له مینځه تللی دي، خو په اوسني وخت کې چې زمونږ اسلامي انقلاب د بري پولي ته بیخي نږدې شوي دی که ددغه اختلافاتو درا منځته کیدو مخه ونه نیول شي نو ډیرې ستونزې پیدا کولي او زمونږ اسلامي انقلاب له خنډ او خنډ سره مخامخ کولي شي. نو اوس ترهرڅه د مخه د مجاهدینو تر مینځ وحدت ته زیاته اړتیا لیدل کیږي- او د مجاهدینو تر مینځ دبې اتفاقۍ په صورت کې به ډیرې لویې بدبختۍ رامینځ ته شي : یو خو دا چې یو شمیراسلام دښمنه عناصرو ته چې اصلاً د روسانودمزدور رژیم دخاد غړي او ځانونو ته یې د مجاهدینو په لیکو او صفونو کې ځای پیداکړی، له دې فرصت څخه استفاده کوی او په قطاع طریقی او نورو ډول ډول تخریبی اعمالو لاس پوری کوی او د بې اتفاقۍ په صورت کې بیا د هغوی مخه نشی نیول کیدای. بل دا چې د هغو کسانو چې اصلاً مجاهدین نه بلکه د مزدور رژیم د خاد غړی وی او د تخریب لپاره یې ځان د مجاهدینو په قطار کې ودردلی دی او یا ځینې د شخصي ګټو په خاطر د مجاهدینو تر څنګ ولاړ دي، خو کله چې د هغه دخیانتونو او تخریبونو مخه نیول کیږي، نو ځان د هغه سیمې بل قوماندان ته تسلیموی هغه

اوس چې زمونږ اسلامي انقلاب د بري پولې ته بیخي نږدې شوی تر هر څه د مخه د مجاهدینو تر مینځ تینګ وحدت ته زیاته اړتیا لیدل کیږي. د بې اتفاقی په صورت کې به ډیرې لویې بدبختۍ رامینځ ته شي.

بیا د ده په خیبانیتونو پرده اچوی د دفاع لپاره یی راپاځیږی او دغسی په مجاهدینو کی دبی اتفاقی او گډ وډه درامینځ ته کیدو سبب گرځی که د مجاهدینو تر مینځ وحدت موجود وی نو هیڅکله داسی واقعه نشی مینځ ته راتللی چی یو مجاهد قوماندان دی له یوه غله، خاین او تخریبکار څخه ننگه او ملاتړ وکړی او نه د دغه ډول جاسوسانو ، غلو او خیانتکارانو لپاره دفعالیت زمینه برابریږی- د مجاهدینو تر مینځ بی اتفاقی کله کله داسی حد ته رسیږی چی د یوی جبهی مجاهدین د بلی جبهی مجاهدین خلع سلاح کوی او د مرگ ژوبلی سبب کیږی چال دا چی دواړه د یوه هدف لپاره او په یوه دښمن پسی دوسلـه وال جهاد سنگر ته تللی دی دا اوداسی نوری گډوډی ټولـی د مجاهدینو د بی اتفاقی نه نشئت کوی او زمونږ د اسلامی انقلاب په ضر رتمامیږی.

د مجاهدینو تر مینځ د بی اتفاقی په نتیجه کی کله کله داسی هم پیښیږی چی په یوه سیمه کی د یوه تنظیم قوماندان دا ادعا کوی چی دامنطقه ما آزاده کړی او قربانی می پری ورکړی، نو د نورو جبهو مجاهدینو ته به هغه سیمه کی د جهاد ی فعالیت اجازه هم نه ورکوی ،کله کله داسی وشی چی د مجاهدینو د بی اتفاقی له کبله په یوه سیمه کی څو پاټکونه جوړ شی او دغه د پاټکونو تعدد بیا هم د سیمو دعا مو خلکو او هم د مجاهدینو د تکلیف او کړا و سبب وگرځی.

ورونو !

زمونږ مکار او خونخور دښمن چی له مونږ سره یی په مخامخ جگړه کی هر اړخیزه ما تی خوړلی، نو د وروستی وسیلی په توگه یی خپلی ټولی هڅی او کوښښونه دی ته متوجه کړی اوغواړی چی د مجاهدینو تر مینځ د درزونو په پیدا کولو او د بی اتفاقی اور ته په لمن وهلو سره به د خپلی بقاء او پایښت لاری چاری برابری کړی شی نو په دی لړکی د مجاهدینو صفونو ته د خپلو گوډاگیانو او ایجنټانو په رالیږ لو او دلته د تخریبي فعالیتو نو په سر ته رسولو او د بي اتفاقي په رامینځ ته کولو سره غواړي چي زمونږ اسلامي انقلاب له ناکامي سره مخامخ او ځان خپل شوم هدف ته ورسوي. دښمن کله د پښتون او فارسي بان تر مینځ د تفرقي اچولو هڅه کوي او کله بیا دشیعه او سني مسله رامخي ته کوي او کله بیا د شرقي، جنوبي، شمالي او غربي برخو باندي د افغانستان د ویشني او تجزیی لپاره د مجاهدینو په مینځ کي د تفرقي او بیلتون غوښتني شومي هڅي کوي.له بلي خوا زمونږ له بي اتفاقي نه په استفادي سره نور اسلام دښمنه طاغوني قوتونه هم د خیر- یه موسسو له لاري د بشري مرستو

پاتې په (۲۱) مخ

له ډیری مودې راهیسې په تاریخ کي د جهاد نوم له پامه غورځیدلی ؤ، الله (ج) دا نوم دهمدغو مؤمنو افغانانو په وسیله راژوندی کړ. افغانانو ته دهمدغه انقلاب په برکت د جهاد د راوستلو شرافت حاصل ، دهجرت اعزاز یې په برخه، د شهادت کرامت او لوړ مقام یې په نصیب او دروس غوندي د لوی الحادی او طاغوتی ځواک دراپرځولو، ذلیله کولو او ماتولو ویاړ هم د دوی په برخه شو.

نمبر ۵:

مسکو او د بغاوت یوه بله څپه

عصمت قانع

کله چې دسرې امپراطورۍ په وجود کې دکمونستي استبداد دتحمل او زغم ریکارډ انتها ته ورسید نو ورسره جوخت د اصلاحاتو او ریفور- مونو یو نوی پړاو هم پیل شو چې په اصطلاح ددغې امپراطورۍ په وجود کې یې په ظاهرې توګه دخلکو او ملتونو د حقوقو داحقاق له مسئلې سره اړخ لګولو .

خو نړیوال سیاسي او اقتصادي څارونکي عقیده لري چې دګورباچوف دغه ټول اقدامات د وخت او زمان د ډیرو سترو اړتیاوو محتومه غوښتنه وه او په اصل کې د ماسکو دغه ریفورمسیتي تحول د ناروغ کمونیزم د تداوۍ هڅه ده .

پرهغو قومونو او ملتونو برسیره چې د زور او جبر په وسیله دسرې امپراطورۍ په لمن کې رانغاړل شوي وو فعلاً پخپله روسان هم ددغې امپراطورۍ له ظالمانه وجود څخه دبیلیدو په لټه کې دي .

څه موده دمخه دمرکزي روسیې دجمهوریت د پارلمان غوښتنه په رښتیا هم د پیښو او قضایاو په جهت کې د حیرانتیا وړاضافه وه .

دبالتیک جمهوریتونه چې دهټلر او سټالین په وخت کې دسرې امپراطورۍ په وجود کې په زورا و جبر سره ورنغاړل شوي وو ددغې امپراطورۍ آسیایي جمهوریتونو هم دتاریخي او فرهنګي پس منظر په اوږده تناظر کې ځان ته آزاد او خپلواك تصویر درلود چې دوسلې ، لښکرو او ټغرو په زور دجبرء ګواښ او پوځي تجاوز له لارې دماسکو دحاکمیت په سیوري کې دریدلي وو .

دبالتیك او آسیایي جمهوریتونو دآزادۍ غوښتنې داعیه دومره دحیرانتیا وړ خبره نه وه ځکه چې دخپلواکۍ لپاره دخلکو راولاړیدل په نوموړو سیمو کې یوه احتمالي او فطري خبره وه ، خو هغه روسان چې په اصطلاح هغوی دسترې امپراطورۍ په پراخ قلمرو کې دیوه زبیښونکي استعمارګر او حاکم قوم حیثیت درلود هغو ته هم دپرولتاریا ددیکتاتورۍ تسلط دزغمولو خبره نه ده پداسې حال کې چې

دټولی امپراطوری په وجود کی د روسانو حیثیت دیوه حاکم او مستبد قوم رنګ درلود اوله هر ډول مادی وسایلو څخه یی متنازع ونډه او استحقاق درلود ، د نړیوالو دډیپلوماتیکو ډیرونکو عقیده داده چی دروسیی دجمهوریت دپارلمانی غونډتو اساسی ماهیت شاید چی دنیرنګ رنګ ولری . خو بشری ضد او دفطرت خلاف تسلط قبولولای شی .

فعلاً دټولی روسیی فدراسیون حیثیت دیوه هغه ناروغ انسان په څیر دی چی بیا بیا د ژوندانه دبقأ لپاره د داروګانو او درملونو استعمال ته ضرورت لری کله چی دګلاسنوست او پروسترویکا پروګرامونه دګورباچوف لخوا

عملیاتو یی صحت موندل مشکل او ناممکن کار دی دافغانستان دمسلمان او میړنی اولس ستر او تاریخ زیږونکی جهاد د نوموړی سرطان دتشخیصوونکی طبیب په توګه دغه ابدی ویاړ ګټلی دی چی نوموړی سرطان یی تشخیص کړ او له هغه څخه یی د بشریت دخلاصون جهت او لوری هم په ګوته کړ .

د سري امپراتوری پر وجود باندی د کمونستی سرطان بدشګوم پروت او بی له عملیاتو يي صحت مشکل او ناممکن کاردی. دافغانستان د مجاهد اولس تاریخ زیږونکی جهاد نوموړی سرطان د تشخصوونکی طبیب په توګه دغه ویاړګټلی او له هغه څخه یی د بشریت د خلاصون جهت او لوری هم په ګوته کړ.

مونږ افغانانو چی دکمونیزم دوحشت او بربریت لوغړنه څیره پخپلو سترګو لیدلی ده ، دحالاتو او واقعاتو تصویر بل ډول وینو افغانانو پخپله دکمونیزم فطری ضد او بشری ضد جوله عملاً لیدلی ده او پوهیږی چی دکمونیزم سلطه د فطرت له بنسټونو سره دتضاد نوم دی نو ځکه اوس د سری امپراطوری په وجود کی نه حاکم اونه محکوم قومونه دغه پیل شول نو عقیده څرګندیده چی شاید دشلمی پیړی دغه نسبتاً ځوان او عیار لیډر به وکولای شی چی د یولړ ریفور میستی اصولو په تطبیق سره دسری امپراطوری سیاسی تبه غو څه کړی . خو دیوی تبی په تعقیب بله تبه او دبلی تبی په تعقیب بله تبه څرګندوی چی دسری امپراطوری پروجود باندی دکمونستی سرطان بد شګوم پروت دی او بی له

دافغانانو تاریخی او ستر جهاد دسری امپراطوری اقتصادی او اجتماعی حالت دومره ویجاړ کړ چی نورپکښی څه نه شول پاتی .

په رښتیا هم که د بریژنیف پالیسی تداوم پیدا کړی وای نو ډیر ژربه ماسکو په بشپړه توګه دیوه تش په نوم سپر پاور حیثیت له لاسه ورکړی وای ، خو ګورباچوف دیو ستر قدرت په توګه

دروسیی دپاتی کیدو لپاره دیوه ناکامه جراح په توګه لګیادی او ددغی ستری امپراطوری په لږزانده وجود کی سیاسی پیچکاری لګوی .

اندری سخاروف چی په روسیه کی دبشر د حقوقو یو پیژندل شوی مبارزؤ او دیوه فیزیك پوه په توګه یی نړیوال شهرت درلود تیرکال یی په یوه سکوت تر پولی پوری ورسوی او په اسانی سره په روسیه کی د راښکیل شوو جمهوریتونو دآزادی عملیه اسانه کړی .

ځینی نړیوال سیاسی مبصرین پدی عقیده دی چی د ماسکو اوسنی انحطاط د برژنیف د دوکتورینو نتیجه ده روسانو نه یوازی په افغانستان کی ، بلکه په لاتینه امریکا ، ړول باندی د آزادی اعلان کوی دا په اصل کی پخپله د روس پرضعف او ناتوانی باندی یو څرګند شهادت دی

شاید چی روسان بیا هم دومره وکولای شی چی دآزادی غوښتلو لپاره دخلکو مبارزاتی خوځښتونه دباروتو او ګولیو په زور دځه مودی لپاره وځنډ- وی خود طاقت استعمال به

د افغانستان د مسلمان ملت ستر او تاریخ زیږونکی جهاد دسری امپراتوری اقتصادی ، سیاسی او اجتماعی حالت دومره ویجاړکړ چی نور پکې څه نه شول پاتی.

تحلیلی مقاله کی ولیکل چی که په افغانستان کی سورپوځ یو کال نور هم پاتی شوی وای نو د ماسکو اقتصادی ماشین به ځای پر ځای ټپ دریدلی وای او بیا به ټوله امپراطوری دیوی چاودنی په نتیجه کی په سلهاو ټوټو باندی ویشل شوی وای . په رښتیا هم په افغانستان کی دروسی پوځ دموجودیت تداوم ګولای شوای چی ډیر ژر ماسکو د یوه ساړه آفریقا ، هندو چین ، منځنی ختیځ او دنړی په نورو سیمو کی په سیمه ایزو لانجوکی مستقیماً ځان دخیل کړ او دغه د خالت د روس ناروغ اقتصادی حالت لاپسی پیچلی او لانجمن کړ . زمونږ دخلکو یوعامیانه متل دی چی وایی : «پیشو چی کمزوری شی ، مږك یی تر لکی نیسی» .

داچی نن د بالتیك ډیر واړه جمهوریتونه په یواړخیز دسری امپراطوری مرګ په یوه محتوم امر باندی بدلوی .

دابلکل یو منل شوی حقیقت دی چی د زوراوجبر په استعمال سره به یو ملت او قوم په مؤقتی توګه سره د ظلم او استبداد تر سلطی لاندی وساتل شی خود دا ړول سلطی تداوم چیری هم تراوسه پوری په بشری تاریخونو کی نه دی موندل شوی .

پاتی په (۳۹) مخ کی

احد خالد

عوامل پیروزی و اسباب رکود در مراحل مختلف انقلاب اسلامی

برای دستیابی و تعریف وضع موجود و به اصطلاح رکود حاضر در این مرحله انقلاب شکوهمند اسلامی افغانستان ناچاریم به گذشته تاریخی و روز های آغاز حرکت آزادی بخش اسلامی در کشور به خون تپیده مراجعه نمایم ، و با مطالعه اسباب عوامل اغاز انقلاب و علل پیروزی بر دشمن که سرانجام منجر به انسحاب قوای تجاوزگر روسی و سر نگونی چند رژیم دست نشانده (ترکی ، امین ، ببرك و انشأالله عنقریب نجیب) گردید میتوان و ضیعت موجود را که مرحله از مراحل انقلاب اسلامی میباشد مورد تحلیل و ارزیابی قرارداده با شناسائی عوامل یکه موجب امید دشمنان و احتمالاً مایهٔ یأس و تشویش دوستان جهاد گردیده است این اسباب ازار دهنده و مضر را از سر راه برداشته و برمشکلات فایق ایم ،

انگیزه قیام و انقلاب .

از انجاییکه مردم افغانستان مسلمان و متعقد به احکام و قوانین آسمانی میباشند و فیصدی آنهم از ۹۸ فیصد تجاوز میکند میتوان

انگیزه اصلی و اساسی قیام و انقلاب را در اعتقاد و ایمان مردم به جهاد و نصرت خداوند متعال جستجو نمود فکر نمی کنیم کسی که صاحب عقل و ضمیر باشد دراین امر بامن مخالفت نماید بدین ترتیب بصورت قطعی میتوان حکم کرد که انقلاب فقط و فقط صبغه اسلامی داشته هیچ عاملی دیگری بحیث عنصر کلیدی و اساسی در نهضت و قیام تاثیر تعین کننده نداشته است . اما بصورت ضمنی در شروع نهضت اسباب و عواملی وجود داشته که نمیتوان آنها را بصورت مجرد و جداگانه مورد بحث قرار داد از آنجمله احساسات ملی شجاعت و مردانگی رسیدن به افتخارات گذشته و .... که همه این عوامل در وجود اسلام و اعتقاد مردم نهفته بود که نمی شود احساسات ملی و شجاعت وغیره را ما سوای اسلام و دین پروری ملت افغانستان مورد ارزیابی قرارداد .

امکانات و اسباب و آلات جنگی :

در روز های نخستین و آغاز جهاد که در واقع از دشوارترین روز ها بشمار میرفت و ملت مسلمان افغانستان یکه و تنها در آزمایش تاریخ قرارگرفته بود و میتوان گفت که سرنوشت اکثر ملل محکوم به پیروزی و ایجاد تحول بواسطه مجاهدین به این نهضت خدائی گره خورده بود تنها وسیله جنگی و امید مردم به امکانات ذاتی و اعتماد به نفس بخود ملت بود که از یك تفنگ چره یی و یاندرتا تفنگ سربی و موش کش تجاوز نمی کرد

اما در مقابل دشمن از تمام وسایل مدرن و پیشرفته روز و کلیه فنون جنگی و نظامی بر خوردار بود و علاوه بر ان یك قوت خطرناك خارجی یعنی روس در پشت پرده کمونست های ملحد را که دشمنان سرسخت ملت مسلمان افغانستان هستند حمایت و

هر نوع حرکتی که صفوف منظم جهاد را خدشه دار نماید همکاری بادشمن تلقی شده و عاملین آن درپیشگاه خدای (ج) و خلق الله مسوول و جوابده خواهند بود.

پشتیبانی می نمود .

دنیای غیر کمونیست و حتی کشورهای اسلامی که تنها سلاح را پیروزی در جنگ میدانستند و از ستمگری کمونیزم به سرد مداری روسیه اطلاع داشتند به مقاومت و ایستادگی مجاهدین در مقابل کمونیست ها اعتقاد و باور نداشته در اکثر موارد از رژیم کابل پشتیبانی نموده ، روابط

دست داشته خود بدون سهل انگاری و درخواست اذن ازاینجا و یا آنجا و بدون اینکه کی از آنها پشتیبانی سیاسی و نظامی میکند وکی آنهارا محکوم وذلیل میداند به دشمن حمله بردند . و بعد از اندك زمانی ثابت نمودند که افغانستان لقمه بی خار و خللی نیست که به اسانی بلعیده شود .

به دشمنان دست رفقای خود را از پشت بسته است سرانجام در چاهی افتاد که برای ملت شرافتمند و مجاهد افغانستان کنده بود .

اکنون که در مرحله سرنوشت ساز و نهائی انقلاب اسلامی قرار داریم انقلاب جا ده های پرخم و پیچ و فراز و نشیب های زیادی را طی نموده و از ازمون تاریخ موفق

> اکنون که درمرحله سر نوشت ساز ونهائی انقلاب اسلامی قرار داریم انقلاب جاده های پرخم و پیچ و فراز ونشیب های زیادی راطی نموده و ازآزمون تاریخ موفق و پیروز بدر آمده است نگذاریم به انحرافش بکشانند و درنیمه راه آنرا به دزدند.

دیپلوماتیك و .... خود را یا حفظ کردند و یا باتجدید نظر در روابط شان از آنها و پشتیبانی نمودند .

توطئه آغاز می شود

دیدیم که ملت مسلمان با توکل به خدا(ج) و وسایل

ترکی در مقابل ازاده ملت نتوانست کاری را پیش ببرد و بواسطه شاگرد وفادارش به جهنم واصل شد ، « امین » جلاد هم سرنوشت بهتر از ترکی نداشت کارمل که مبتکر وطن فروشی بود و در چاکری

و پیروز بدر امده است نگذاریم به انحرافش بکشانند و در نیمه راه آنرا به دزدند .

توطئه فریب کارانه فرمان های چندگانه ترکی ، شعار عدالت مصونیت و قانونیت جفیظ لعین و تشکیل جرگه

ملی پدر وطن و مادر وطن
کارمل و اینك آشتی ملی و
حزب خلقی وطن نجیب همگی
جهت فریب و اغوای ملت یك
بار افتاد اما چون همگی این
حرکات مزبوحانه با روح ملت
مسلمان مادر تضاد و تناقض
بود یکی آنهم کارگر نیفتاد و
جز رسوائی بیشتر برای دشمنان

مقابله نمود و آنها را و ادار
به عقب نشینی کرد ، باید به
صلح روآورد ؟ !! و پیوست
با این تبلیغات تفاوتهای سلیقه
ئی و تکتیك های مبارزاتی و
سازمانی مجاهدین را به عنوان
اختلافات عمیق بزرگ ساختند و
ازکاه کوه درست نمودند .

اینك امروز که ملت

است قتل و قتال باشدت و
قساوت توسط خود فروخته گان
خلقی و پرچمی ادامه دارد ،
نجیب با ریأ و تزویر و از روی
بیچارگی اما فریبکاری به
اسلام روی آورده است ، حزب
جنایتکار و مجرم خلق
دیموکراتیك به حزب وطن !!
تغیر نام داده شده .

امروز که ملت مسلمان ما باتقدیم نمودن ملیون هاشهید ، معلول و مجروح دراستانه پیروزی قرار گرفته اند ، توطیه ها هم شدت پیدا کرده است .

و ثبات قدمی استواری در راه
بدست آوردن هدف توسط
مجاهدین کاری را از پیش
نبرد .

در هریکی از این مراحل
به تفصیل دشمنان تبلیغات
کردند که در جهاد رکود
بوجود آمده است ، مجاهدین
از جنگ خسته شده اند ، از
طریق نظامی نمی شود با قوای
مجهز روسی و مزدوران آن

مسلمان با تقدیم نمودن
ملیونها شهید و معلول و
مجروح در آستانه پیروزی قرار
گرفته اند توطئه ها هم شدت
پیدا کرده است . روس ها از
افغانستان با سرافگند کی فرار
کردند اما جای آنها را
سلاحهای خطرناك و ضد بشری
اسکاد ، اوراگان و میزایل های
که بمبهای خوشه ئی و شاه
پرکی پخش مینمایند گرفته

با این حال دشمنان اسلام
در هر رنگ و لباسی که هستند
برای جلوگیری و یا حد اقل به
انحراف کشاندن انقلاب اسلامی
دست بدست هم داده اند و
نغاره های صلح خواهی به
گردن اویزان نموده ، دست
های ناپاك از استین متقدمین و
متأخرین سیاستمدار و مامور
اسبق و اهل خبره !! برون می
آید . ضرب الاجل تعین میکنند

ملت مجاهدی را که روس نتوانست تهدیدش نماید تهدید می کند انحصار طلب و تشنه قدرتش میخوانند و از آنها دز خواست مینمایند دست از رهبری جهاد بردارند و قدرت را به آنها بسپارند ورنه ....؟

نتیجه :

در نتیجه میتوان از صحبت های بالا اینطور نتیجه گیری نموده که :

۱ ـ تمام افتخارات امروز نتیجه اتکأ به خدای لایزال و اعتماد به نفس بخود ملت بوده ، پیروزی نهائی هم درگرد ادامه جهاد مسلحانه با دشمنان است و بس .

۲ ـ هر گونه سازش و یك سانتی متر عقب نشینی از مرام و مقصد علیاً که همان پیروزی و استقرار حکومت اسلامی به دست مجاهدین این وارثین اصلی میهن میباشد به معنی قبول شکست و پشت کردن به اسلام و خون شهید-ان خواهد بود .

۳ ـ هرنوع حرکتی که صفوف منظم جهاد را خدشه دار نماید همکاری با دشمن تلقی شده و عاملین ان در پیشگاه خدای رحمن و خلق الله مسؤل وجواب ده خواهند.

٤ ـ باید عواملی که باعث ان گردیده تا دشمن را امید وارد به ادامه حیات ننگینش نماید بررسی شده و راه های حل مناسب برای آن سنجیده شود .

٥ ـ کسانی هم که از روی دلسوزی و عشق ورزیدن به ملت مجاهد و میهن زیبای اسلامی افغانستان قدمهای بر میدارند باید کار و پروگرام شان با در نظر گرفتن حساسیت های موجود و تحت رهبری بزرگان محترم جهاد صورت بیگیرد . در غیر آن « این راهی که میروند به ترکستان است »

که د مجاهدینو ترمینځ ...

تر پردي لاندي په مونږ کي د یهودیت او نصرانیت د خپرولو هڅه کوي.
وزونوا د اسلام دښمنانو ددي ټولو توطئو او د سیسو مخه مونږ یوازي او یوازي په ربښتیني اسلامي وحدت سره نیولای شو او که نه زمونږ د غفلت او بي اتفاقي له امله به خپل دا ګټلي اسلامي انقلاب چي دېري پولي ته بیخي نژدي شوي، بایلونو زمونږ ددي ټولو بدبختیو دله مینځه وړلو، په افغانستان کي داسلامي حکومت جوړولو، او د افغانستان د مجاهد ملت دوجود پرتمپونو د ملهم پدلو لپاره یوازي او یوازي یوه لارشته او هغه د مجاهدینو ترمینځ د ربښتني او غښتلي وحدت لاره ده او بس.

«ومن الله التوفیق»

سید محی الدین هاشمی

په تیرپسې:

د روسانو د مزدور رژیم په زندانونو کې

دبندیانو لیدلی - اوریدلی حالات

(۵)

د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځی یوی استادی د زندان لیدلی کتلی حالات داسی بیان کړی دی : زه یی د روسانو د تجاوز پر ضد د مظاهری د ترتیبولو له امله په ۱۹۸۱ ع کال (۱۳۵۹ هـ ش) ونیولم . لومړی یی زه مکرویانو ، ته چی هلته د خلق د کمونست حزب یو/ مرکزی دفتر ؤ ، بوتلم . هلته حزبی کارکوونکو د روسی مشاورینو په دستور زه ووهلم ، وروسته یی زه د شش درک خاد دفتر ته بوتللم . دفتر ته له ورتللو سره سم هغه څه ته چی زما پام وا وښت هغه د موسیقی غږ ؤ . دغلته د هر ډول افغانی ، غربی او آسیایی موسیقی ډیر لوړ اواز اوریدل کیده . وروسته بیا تر شکنجو لاندی ښځو او نارینه ؤ اواز زما تر غوږ شو . دغلته یی زه څو ورځی په یوه خو نه کی یوازی پریښودلم ، هره ورځ به می د څو ساعتونو لپاره لومړی د موسیقی لوړ غږ او بیا به دژړا او فریاد اوازونه زما غوږونو راتلل . وروسته یوه ورځ یوی ښځی او یوه سړی له ما څخه تحقیق وکړ ، او بیا یی مؤظفینوته زما د بی خوبه کولو حکم وکړ . په بله ورځ یی زه یو بل ځای ته بوتللم چی بیا وروسته و پوهیدم چی دا د صدارت د خاد د تفتیش مرکز دی . زه یی داسی خونی ته وروستلم چی دیوالونه یی ځای په ځای په وینو رنګ ووا و داسی ډول ډول مضر حشرات پکی لیدل کیدل چی ما هیڅکله دومره حشرات نه وولیدلی . په همدغه شپه یی زه یوی بلی خونی ته هم بوتللم چی د

راحت ډیر وسائل پکی مهیاوو په دغه ځای کی «عالمتاب» نومی ښځی او «کیوان» نومی سړی له ما څخه تحقیق وکړ . عالمتاب زما د ویښتانو په – ښکلو او کیوان په سوکانو او لغتو زما په وهلو او ټکولو پیل وکړ . دغه تفتیش او تحقیق د شپی تر دری بجو پوری دوام وکړ . وروسته یی بیازه یوی بلی خونی ته چی نوری ښځی هم پکی په ځمکه پرتی وی بوتللم اوراته یی وویل اوس هم دلته ویده شه . څرنگه چی هلته د زندانیانو شمیر دومره زیات ؤ چی ویده کیدل خولا څه چی د پښی ایښودلو ځای هم نه ؤ ، نو ما پوښتنه وکړه چی چیرته ویده شم ؟ راته ویی ویل : همدلته د دی نورو سپیو سره ویده شه !

په دریمه شپه بیا راغلل او زه یی بیا له ځانه سره بوتللم . دا ځل یی یوه برقی آله هم له ځانه سره راوړی وه . کله چی دوی له خپلی غوښتنی سره سم له مانه ځوابونه وا نه وریدل نویو ډول کړی یی زما غاړی ته را واچوله او ماته یی وویل چی بوتان دی له پښو څخه وباسه او په فرش ودریږه .

زما یوه د یاداشت کتابچه چی دوی له ځان سره راوړی وه په هغی کی د څو تنو نومونه لیکلی وو په سرسری توگه یی هغی کتابچی ته وکتل او له ما څخه یی پوښتنه وکړه : له کوم تنظیم سره ارتباط لری ؟ د دغو ورانکارو او دولتی ضد عناصرو سره څه ډول ارتباط لری ؟ هغوی چی نومونه یی په دی کتابچه کی لیکل شوی دی څه کاره دی ؟ ما د هغوی ددی وروستی پوښتنی په ځواب کی وویل چی دا زما دوستان او خپلوان دی ، بل کوم خاص ارتباط ورسره نه لرم خو دا چی هغوی بی له اعتراف څخه بل هیڅ ډول ځواب نه مانه نو زما په تعذیب او شکنجه کولو یی شروع وکړه . د برقی ټکانونو پوسیله یی ماته سزا را کړه د شکنجی په دریمه ورځ ما دا درك کړه چی که چیری د برق د جریان په پیل کی خپله پښه له ځمکی څخه پورته کړم د برق جریان او د هغه اغیزه (اثر) کمیږی نو په دی توگه به ما همیشه کله چی هغوی ماشین چالانوه او پام به یی نه وه پښه به می پورته کوله خو کله کله به د برق جریان دومره تیز او زیات ؤ چی زه به یی په ځمکه وغورځولم او بیا می دا مجال نه ؤ چی خپل ځان کنترول کړم . د برق د ماشین د چالانولو په وخت کی به می د زړه درزا (ضربان) زیاتید له ، زه به بی حسه او فلج کیدلم .

په څلورمه ورځ هم هغوی څو ځل له ما نه پوښتنه وکړه او څو ځل یی برقی ټکانونه را کړل . وروسته یی بیازه یوی تیاری خونی ته بوتلم چی په یو کنج کی یی یومیز پروت ؤ . هلته هم یوه ښځه او سړی ناست وو او له مانه یی همامغه پخوانی

پاتی په (۶۳) مخ

ریښتنی او بشپړ اتحاد

بری ته د رسیدو

لنډه او یوازینی لار ده.

امین وردك

دمنبع الجهادمجلې خبریال د غزنی ولایت د جهاددسنگر له نومیالی قوماندان امین وردك سره یوه مرکه کړې چې دلته یې خپروو.

د اداره

پوښتنه: مهر بانی وکړئ د منبع الجهاد مجلې لوستونکوته خپل ځان معرفی کړئ؟

ځواب: زما نوم محمد امین وردك اود مولوی صاحب خالص د حزب اسلامی د غزنی ولایت مسئول یم.

پوښتنه: داسی اوازې خپرې شوې چې مجاهدین به دیو لړ بهرنیو فشارو نوله مخې دی ته مجبور کړی شي چې په اصطلاح یوه وسیع البنیاد اومخلوط حکومت کې برخه واخلی د دی په مقابل کی که د مجاهدینو په دریځ رڼا واچوئ مهربانی به مو وي.

